# پښتونخوا

## دپښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه

## دېرشمه ګڼه    2007 کال

# Pakhtoonkhwa

**Jahrg./vol: 21**

**nummer/ no: 30**

## PASCHTUNCHWA / PASHTOONKHWA

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN
PARTEI DER PASCHTUNEN

ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL
DEMOCRATIC PARTY (PSDP)

www.pashtoonkhwa.com
pashtoonkhwa@gmail.com
psdp@gmx.net

# پښتونخوا

د پښتنو د ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه

PSDP

دېرشمه ګڼه، ۲۰۰۷ع کال
يو ويشتم کال

Jahrg./vol: 21
nummer/ no: 30

# PASCHTUNCHWA
# PASHTOONKHWA

**ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN**

**ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY**

# PSDP

www.pashtoonkhwa.com



## لړليک


| سرليك | ليكوال | مخګڼه |
|---|---|---|
| خان عبدالولي خان د خپلې مبارزې | ميا فاروق فراق | ۲ |
| سياسي سا پوهنه | ډاكتر كبير ستورى | ۹ |
| جناب ډاكتر كبير جان | علي خان محسود | ۱۱ |
| رفيق شينوارى، د لوى فنكار نيمګړې | لايق زاده لايق | ۱۸ |
| د ارواښاد ستوري ياد | زرين انځور | ۲۴ |
| د ساپوهنې او پښتونولۍ خان | رحمت ربي زيركيار | ۲۷ |
| له پروفيسر جهانزېب نياز سره مركه | | ۳۰ |
| د پښتنو ستورى نه پنا كېږي | عزيز سرشار | ۳۴ |
| په جرمني كې پښتون رساله | نصير ستورى | ۳۵ |
| ارواښاد ډاكتر كبير ستورى | محمداجان يار | ۳۷ |
| خوب (شعر) | ببرك دقيق شفيق | ۳۹ |
| ډاكتر كبير ستورى يو سياسي مبارز و... | انجنير شېر محمد ساپى | ۴۱ |
| د اسمان ستورى | ډاكتر شېر ولي شېر | ۴۳ |
| پر هېواد مېن سپېڅلى افغان | پوهاند ډاكتر كېمور | ۴۴ |
| نوې زړې | خبريال: عزيز سرشار | ۴۶ |
| شعر | عبدالوهاب سرتېر | ۵۴ |
| شعر | عرفان الله كوتوال كونړى | ۵۵ |
| مباركي | | ۵۶ |


خپروونكي: د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند پښتونخوا/ افغانستان

**Herausgeber: Sozialdemokratische Partei der Paschtunen Pashtunchwa/ Afghanistan**

**Publisher: Pashtoons Social Democratic Party (PSDP) Pashtoonkhwa/ Afghanistan**

**ذمه وار**
V.S.I.P
Responsible for contents
د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند
(PSDP)
KIEBITZWEG 12
50389 Wesseling
Germany
Tel.: 0049 2236 3190445
Fax: 0049-2236/841930
E-mail: psdp@gmx.net

**Redaktion:**
**Editorial Board:**
Gul Ghutai Kunarai
Ali Khan Mahsood
Hidayat Bangash
Mabariz Zapi
Aziz Sarshar
Haji Nasir Stori

**د خپرونې جرګه:**
ګل غوټۍ كونړۍ
علي خان محسود
هدايت بنګښ
مبارز ځاپى
عزيز سرشار
حاجي نصير ستورى

E-mail: psdp@gmx.net

تکلیف سره مخ کولو دپاره دی د ډی ائی خان جیل ته ولیږل شو او په مارچ ۱۹۵۳ کښې یو ځل بیا د هریپور جیل د تورو تمبو دننه کړی شو او بیا اخر په ۱۴ نومبر ۱۹۵۳ فیډرل کورټ ولی خان رها کړو. دخپلې رهائی نه وروستو عبدالولی خان دخپل پلار خان عبدالغفارخان په اجازت دخدائی خدمتګارو او د وخت دحکومت ترمنځ دغلط فهمیو ختمولو دپاره ددې صوبې وزیراعلی عبدالرشید سره مذاکرات وکړل او دهغې نه وروستو ئې د هاغه وخت دګورنیو چارو د وزیر مشتاق کرمانی سره خبرې اترې وکړې همدغه شان د وزیراعظم محمدعلی بوګره او بیا د ګورنر جنرل غلام محمد سره ئې هم څو څو ځل ملاقاتونه وکړل او اخر ولی خان په دې بریالی شو چې د مخالفینو د طرفه د خدائی خدمتګارو په ضد پیدا کړی شوې غلط فهمی ختمې کړی او ددغه غلط فهمیو ختمیدو په نتیجه کښې په جیلونو کښې پرتو په زرګونو خدائی خدمتګارو ته عامه معافی اعلان کړی شوه او دوی نهٔ یوازې دجیلونو نه رها کړی شول بلکې ضبط کړی شوی جائیدادونه هم ورته واپس کړی شول، په کال ۱۹۵۴ کښې د ون یونټ قیام په عمل کښې راغلی چې ددغه یونټ د ماتولو دپاره باچاخان او ولی خان بې کچه هلې ځلې وکړې او په ملکی کچ یوه نوې پارټی ددې غرض دپاره دنیشنل عوامی پارټی په نوم جوړه کړی شوه چې په کال ۱۹۲۸ کښې خان عبدالولی خان ددغه پارټی مرکزی صدر غوره کړی شو. په نومبر ۱۹۲۸ کښې ولی خان یو ځل بیا ګرفتار کړی شو او ساهیوال جیل ته ولیږلی شو چې دهغې نه وروستو بیا د ګجرات جیل ته منتقل کړی شو دا د ایوب خان د اقتدار زمانه وه په دغه وخت کښې چې کله دحکومت لخوا د یو ګول میز کانفرنس دجوړولو تابیا وشوه نو په دغه وخت اپوزیشن ګوندونو په کانفرنس کښې د ګډون دپاره دا شرط کیښودو چې زمونږ قیدیان دې دجیل نه رها کړی شی بیا به مونږ کانفرنس کښې برخه اخلو او دغسې داپوزیشن په غوښتنه ولی خان هم په مارچ ۱۹۲۹ کښې دجیل نه رها کړی شو. او په ګول میز کانفرنس کښې ئې برخه واخسته په کال ۱۹۷۰ کښې دیخیی خان په دور کښې د الیکشن تابیا وشوه او ولی خان په دغه الیکشن کښې د قومی او صوبائی اسمبلی غړی منتخب شو. په دغه دوران کښې دبنګله دیش د بیلیدو واقعه هم رامنځته شوه په دغه وخت دپاکستان دننه دمخالفو ګوندونو لخوا خان عبدالولی‌خان په قومی اسمبلی کښې د حزب اختلاف مشر وټاکل شو او دهٔ دپارلیمان دننه د وړو صوبو دحقونو معامله په پوره اخلاص او ایمانداری سره راپورته کړه په ۲۲ نومبر ۱۹۷۱ صدریخیی خان په نیپ بندیز ولګولو او وروستو بیا ذوالفقارعلی بهټو دغه بندیز پورته کړو دلته دا خبره کول هم ضروری ګنم چې کله د ایوب خان په دور کښې په کراچی کښې دهندوستانی مهاجرو او پښتنو ترمینځه





جنګونه او فسادونه شروع شول نو په هاغه وخت کښې ولی خان کراچی ته لاړی او ددغه مسئلې یو پرامنه هواری ئې راوویستو اود مهاجرو او پښتنو ترمنځ ئې دروغې جوړې او سولې فضاء رامنځته کړه. په فروری ۱۹۷۵ کښې یو ځل بیا په نیپ بندیز ولګیدو او ولی خان د نورو ملګرو سره یو ځای ونیول شو په دهٔ د حیدراباد سازش کیس مقدمه وچلیده خو ولې اخر بې ګناه ثابت شو او په کال ۱۹۷۷ کښې عدالت ددهٔ د پریښودو احکامات جاری کړل دهٔ دوه ځل په هغه کانفرنس کښې ګډون هم کړی ؤ. چې دریفر والیشن پیپلز ارګنائزیشن په اهتمام جوړ شوی ؤ. په اتمه فروری ۱۹۷۵ چې کله حیات شیرپاؤ دبم په یوه حمله کښې شهید کړی شو نو ولی خان په دغه شپه د لاهور نه پیښور ته راروان ؤ چې دګجرات په مقام ونیولی او د ساهیوال جیل ته ولیږلی شو. همدا شان د نیپ ټول د سرسر مشران د پښتونخوا، بلوچستان، پنجاب او سندهـ نه ګرفتار کړی شول دغه وخت ذوالفقارعلی بهټو د امریکې په دوره ؤ دهٔ خپله دوره ختمه کړه او په سمدستی ډول ملک ته راستون شو او په نهمه فروری ۱۹۷۵ ئې په نیپ بندیز ولګولو. دحیات شیرپاؤ د قتل الزام هم په نیپ ولګول شو. په لسمه فروری د پی پی پی او د قیوم خان دمسلم لیګ جلسه په پیښور کښې وشوه او دجلسې نه وروستو یو لوئې جلوس وویستی شو. چې دغه جلوس د نیپ په دفتر وروختو. او دپارټی ټول ریکارډ ئې وسوزولو، همدغه شان دشهباز اخبار په دفتر او دارباب سکندرخان په دفتر هم دغه خلق وروختل او دغلته ئې هم ټول ریکارډ وسوزولو او سامانونه ئې مات کړل وروستو دوی دحاجی بلور دوکان ته ورغلل ددهٔ دوکان ئې د پیسو سره لوټ کړو. دغه د پارټی د پابندی کیس بهټو په سپریم کورټ کښې داثر کړی ؤ. چې دا شان د سپریم کورټ په ذریعه په بندیز لګولو دهٔ ته قانونی او ائینی تحفظ فراهم شی. خو ولې بهټو دا بندیز د وړاندې نه لګولی ؤ. دا یو ځانګړی کیس ؤ لهذا ولی خان او ددهٔ ملګری دپنډی جیل ته منتقل کړی شول، دغلته نه بیا د ساهیوال اود ساهیوال نه دسکهر جیل ته ولیږلی شو. دغلته په دهٔ څو میاشتې مقدمه سوره وه خو ولې په دغه مقدمه کښې دی یو ځل هم عدالت ته وړاندې نکړی شو. دا شان د سکهر سازش کیس پخپل ځای پاتې شو. او ولی خان اوددهٔ ټول ملګری دحیدراباد جیل ته ولیږلی شو. او دې نه علاوه د ولی خان نور ډیر ملګری هم دې کیس کښې راولږلی شول او دحیدراباد سازش کیس په نوم پرې مقدمه داثر کړی شوه. او ووئیلی شول چې ولی خان او ددهٔ ملګرو دملک ماتولو سازش جوړ کړیدی. دې لړ کښې په نولسو میاشتو کښې د استغاثې دوه ویشت ګواهان پیش کړی شول او په دې کښې په سوونو ګواهان وو چې دهغوی دګواهی اوریدو دپاره کم از کم شپیتهٔ کاله پکار وو او بیا د صفایی دګواهانو دپاره هم همدومره اوږده موده پکار وه یعنې





دا ټول ظلم ولی خان سره صرف او صرف د انتقامی جذبې دلاندې کیدو. کله چې په نیپ بندیز ولګیدو نو میرمن نسیم ولی خان او امیرزاده خان سکهر جیل کښې ولی خان سره ملاقات وکړو. ولی خان دوی ته ووئیل چې زهٔ په جیل کښې دمداخلت قائل نهٔ یم ځکه نو تاسو چې هر څهٔ کوئ دخپلو حالاتو او واقعاتو په رڼا کښې ئې وکړئ او داسې دجیل نه د بهر ملګرو په صلاح مشوره نیشنل ډیموکریټک پارټی جوړه کړی شوه چې شیرباز مزاری ئې صدر او میرمن نسیم ولی خان ئې نائب صدره وټاکل شوه. جنوری ۱۹۷۷ کښې بهټو د عامو انتخاباتو اعلان وکړو، مرکزی او صوبائی اسمبلی ماتې کړی شوې او دانتخاباتو تیاری شروع شوې چې په دغه الیکشن کښې د اپوزیشن ټول ګوندونه خپلو کښې یو موټی شول اودوی دیو ډی ایف په ځای پی این ای قومی اتحاد جوړ کړو. په اووم مارچ ۱۹۷۷ دقومی اسمبلی الیکشن وشو او پی این ای ددغه الیکشن دنتیجو تسلیمولو نه انکار اودهاندلی له امله ئې په لسم مارچ ۱۹۷۷ دشوؤ انتخاباتو نه بائیکاټ وکړو دغه شان دقومی اسمبلی غړو هم احتجاجاً استعفی ګانې ورکړې او تحریک ئې شروع کړو. بیا په کال ۱۹۷۷ کښې ضیاء الحق مارشل لاء ولګوله او بهټو ئې ګرفتار کړو تقریباً درې هفتې وروسته د ولی خان او ددهٔ دملګرو سره ملاقات دپاره ضیاء الحق په خپله حیدراباد جیل ته ورغلی. او مذاکرات ئې ورسره وکړل او داسې بیا څو څو ځله دغه مذاکرات وشول چې په اخره کښې خبرې اترې د کامیابی پړاؤ ته ورسیدې او بلاخره دحیدراباد دسازش کیس کښې رالږل شوی ټول کسان رها کړی شول وروستو دضیاء الحق په دور کښې هم ولی خان دجیل تورو تمبو ته ولیږلی شو. په ۱۹۸۸ کښې عام انتخابات وشول چې خان عبدالولی خان پکښې دقومی اسمبلی غړی منتخب شو او ددې نه وروستو بیا ټول ترقی پسند رایو ځای شو او دعوامی نیشنل پارټی په نوم ئې یو نوی ګوند جوړ کړو چې خان عبدالولی خان ئې دوه ځله تر دریو دریو کالو صدر پاتې شو خو دپارټی ائین په مسلسله توګه د دوؤ ځلو نه زیات دصدر جوړیدو اجازه نهٔ ورکوله ځکه نو بیا اجمل خټک ددې پارټی صدر شو او د اجمل خټک نه وروستو اوس د ولی خان زوې اسفندیارولی خان ددې پارټی مرکزی صدر دی. دخان عبدالولی خان ټول ژوند دپښتون اولس دحقونو دپاره دیوې نهٔ ستړې کیدونکې مبارزې نه عبارت دی او دپښتون قام تاریخ کښې به ددهٔ قربانیو ته مدام "سورسلام" کیږی.

**کعبه جوړه ابراهیم کړه زه جوړ کړی یم الله**

**اوس نو څوک لوی شو اوچت شو وایه وایه ای ملا**

**غني خان**





# سیاسي سا پوهنه

**ډاکتر کبیر ستوری**

په اوسني وخت کې د سیاست او ساپوهنې (نفسیاتو، روحیاتو) په اړیکو (تعلقاتو) ډېر ټینګار کېږي؛ ځکه چې سیاسي پېښې بې د هغوی د ساوالو (نفسي یا روحي) علتونو او وجوهاتو څخه تشرېح او روښانه کېدلی نه شي؛ خو مخکې له دې څخه چې د سیاست او ساپوهنې په اړیکو وګړېږو پکار ده، چې خپله د سیاست او ساپوهنې بنسټونو (بنیادونو) ته ځغلنده کتنه وشي، تر څو چې لوستونکي ددغو دواړو پوهنو د بڼو (شکلونو، څېرو) او ډډ (ماهیت) څخه خبر او په اسانۍ سره یې په اړیکو او خپلوۍ پوه شي.

**سیاسي پوهنه:**

د سیاست اصطلاح لکه د نورو اصطلاحګانو په شان د عوامو په ژبه کې یو مانا (معنا) او په پوهنیزه (علمي) ژبه کې بله مانا لري.

پخپله په پوهنیزه (علمي) ژبه کې هم مختلف پوهان او لیکوالان د سیاست د اصطلاح د لاندې مختلفو څیزو نه پوهېږي.

سیاسي پوهنه یوه لرغوني او پخوانۍ پوهنه ده. دغه نوم د یوناني کلمې پولېس (Polis) څخه راوتلی دی، چې د ښاري هېواد (City- State) مانا ورکوي کوم، چې پخوا په یونان کې و.

یوناني فیلسوف ارستو (Aristotle)، چې د ۳۲۲ څخه تر ۳۸۴ق.م (قبل المیلاد) کلونو کې تېر شوی دی یو کتاب ولیکه. ددغه کتاب نوم سیاست، یعنې پولټیك (Politics) و، کوم چې د یونان د ښاري هېواد (City- State)، چې د پولیس (Polis) په نامه یادېده باقاعده څېړنه وه.

د همدې ځای نه دا نظر راوتلی دی، چې سیاسي پوهنه د هېواد (State) پوهنه ده او د هېواد سره سر و کار لري؛ خو دلته دا ویل هم

پکار دي، چې پـه نـړۍ کـې د نـورو څیزونـو پـه شـان هېـواد (State) هـم پـه ټول وخت کې پـه یـوه بڼـه (شـکل) کـې نـه دی پـاتې شـوی او وخـت پـه وخت یې خپلـه بڼـه بدلـه کـړې ده. د انسـاني ټـولنې د تـاریخ پـه لومـړنیو پړاوونـو کـې هېـواد (State) نـه و؛ خـو کلـه چـې انسـاني ټـولنې وده وکړه او زیاته منظمه بڼه یې ونیوله؛ نو هېواد (State) منځته راغی.

ځیني لیکوالان داسې فکر کوي، چې د انسـاني تـاریخ پـه لومـړنیو پړاوونو کې خصوصي ملکیت نـه و او هـر شـی ګـډ او شـریك و؛ خـو بیـا وروسـته خصوصـي ملکیـت منځتـه راغـی او خصوصـي ملکیـت د منځتـه راتـګ سـره سـم اتثمـار (استحصـال) هـم منځتـه راغـی او انسـاني ټولنـه پـه دوو ډلـو (طبقـو) یعـنې اسـتثمار کوونکیـو (استحصـال کوونکیـو) او اسـتثمار کېـدونکیو (استحصـال کېـدونکیو) بانـدې ووېشـله شـوه او هېـواد (State) بیـا د اسـتثمار کوونکیـو د حاکمیـت د یـوې وسـیلې پـه توګـه (حیث) منځتـه راغـی. دا لیکـوالان پـه دې عقیـده دي، چـې ټولنـه د ودې او پـرمختګ پـه لـور روانـه ده، چـې پـه اخرنـي پـړاو کـې بـه د تولیـد (پیداوارو) پـه وسـایلو قبضـه، یعـنې خصوصـي ملکیـت د منځـه لاړ شـي او بېرتـه بـه ټـولنیز او ګـډ شـکل غـوره کـړي. دا بـه اسـتثمار (استحصـال) او پـه دې توګـه اسـتثمار کـوونکې (استحصـال کـوونکې) ډلـه د منځـه یوسـي او بـې ډلـو (طبقـو) ټولنـه بـه منځتـه راشـي. څنګـه، چـې هېـواد (State) د اسـتثمار کـوونکې (استحصـال کـوونکې) ډلـې د حاکمیـت یـوه وسـله وه؛ نـو چـې اسـتثمار (استحصـال) او اسـتثمار کـوونکي (استحصـال کـوونکي) خـتم شـو؛ نـو د هېـواد (State) د موجودیـت ضـرورت نـه پاتې کېږي او دا به هم د منځه ځي.

## د ډیلـي تخـت هېرومـه چـې رایـاد کـړم
## زمـا د ښکلـې پښتونخـوا د غـرو سـرونه

احمد شاه بابا







*ایډوکیټ علی خان محسود*

جرمني ـ اوپرتال

# جناب ډاکتر کبیر جان ستوري ته
# د عقیدت ګلونه

کبیر جان ما لومړی ځل په ۱۹۷۶ع کال د مۍ په میاشت کې د جرمني د فرانکفورټ په ښار کې ولید. په دې پېژندګلوۍ کې میاه شاجهان چې نن سبا ډاکتر شاه جهان د پېښور پوهنتون د ژورنالېزم ډیپارټمنټ چیرمین دی، بنسټي رول لوبولی و. شاه جهان د ژورنالېزم څانګې طالب علم و، زموږ د پېښور د یونیورسټۍ د وخت د سیاسي هلوځلو ملګری و.

موږ چې په ۱۹۷۴ع کال کې بهټو قیدیان کړو، شاجهان میا جرمني ته پښې سپکې کړې وې. د ۱۹۷۵ع کال د مۍ په میاشت کې زه د هریپور جېل نه خلاص شوم، نو حیدراباد سازش کېس کې حکومت زما د بیا ګرفتارۍ کوښښ وکړو، خو زه اوس ویښ شوی وم. زه د پټو پټو لارو په ذریعه اول خوست او بیا کابل ته لاړم، د اجمل خټك صیب سره یوځای شوم. په دغه وخت د افغانستان وزیر داخله فیض محمد خان محسود و. بیا وروسته د سرحداتو وزیر شو او سردار داود خان د افغانستان رئیس جمهور و. درېواړه (اجمل صیب، سردار محمد داود خان او فیض محمد خان) پرېکړه وکړه، چې ما کوم بهرني ملك ته ولېږي. په دغه وخت کې شاه جهان میا په جرمني کې و او ماته یې لیك راولېږه، چې زه وطن ته درځم بیا به ګډ جرمني ته لاړ شو.

په ۱۹۷۶ع کال د اپریل پـه میاشت کې موږ د روسي هوایي لیکي ائرفلوټ په ذریعه اول تاشکند، بیا ماسکو او له ماسکو څخه برلین ته په اورګاډي کې راغلو، چې ۱۶ اپریل ۱۹۷۶کال کې برلین ته ورسېدو. په دغه وخت کې برلین د مغربي او مشرقي جرمني ترمنځ وېشلی ښار و. د ۱۹۷۶ع کال د مۍ پـه لومړۍ د لویدیځ جرمني فرانکفورټ ښار تـه راورسېدو. دلته له رحیم ځدراڼ سره چې دا هم د رحمان بابا له لېسې څخه





...رغ شوی و او ډېر خوش طبیعته پښتون و، یوځای شو. د هغه وخت مطابق رحیم ځدران اول ملا و. ورپسې ماویست او بیا د تره کي صاحب د ګوند غړی و، خو ددې ټولو سره سره خوږ پښتون هم و. په هغه وخت کې دلته ماویستان هم وو، چې ځیني پکې ایراني او تاجکي نژاده او د پښتنو ضد وو. پښتانه که خلقیان وو که پرچمیان، د پښتونستان د رېږې او په ځانګړې توګه له لرو پښتنو او بلوڅو سره د څه وړو وړو ګېلو نه علاوه یې له دوی سره مینه لرله.

ماته ښه یاد دي، چې ما د ۱۹۷۶ع کال د مۍ په درېمه نېټه په هغه رابلل شوې غونډه کې، چې په فرانکفورټ کې د رحیم ځدراڼ له خوا په هـایم کـې جـوړه شـوې وه، ګـډون وکـړ. د نـورو افغـاني سـټوډنټانو (پوهېدونکیو) نه علاوه په ۲ مۍ کبیر جان لعل د کولن نه له تندر صیب او انور ظفري سره فرانکفورټ ته رغلل. تر سترې مشې وروسته شاه جهان میا زما او د کبیر جان پېژندګلوي وکړه.

سبا چې څه وخت جلسه پیل شوه، نو ټولو ګډون کوونکیو د کمونیزم او مارکسېزم ډول وهلو. موږ هم په پښتونخوا کې د مارکسېزم او کمونېزم نه خبر و، خو زموږ بنسټي تربیه نشنلېزم، خدایي خدمتګاري، باچا خان او د پښتنو یووالی و. موږ د امریکا ضد وو. د کمونسټ بلاك او په ځانګړې توګه د سویټ یونین د بهرني سیاست پلویان وو، خو د حکومتي او اقتصادي سیستم له نقطې له نظره موږ په ډېر ګوندي سیاست او ازاد تجارت باندې باور و، خو په دې خبرو زموږ د برو پښتنو ورونو سرونه، نه خلاصېدل. رحیم ځدران به ماته ویل چې ته ټولې خبرې انقلابي کوې، خو ته د یو ګوندي سیاست مخالفت کوې. ما به په ټوکو کې ورته ویل، چې دروازې ډېرې پکار دي، چې بیروبار تقسیم وي. که په یوه دروازه کې رش او بیروبار زیات وي، نو د مرګ او ژوبلې خطره وي، خو کبیر جان نه یوازې دا چې له موږ سره په خبره پوهېده، بلکې یواځینی نشنلېست او قام پرست پښتون و، چې زموږ ملګری و.

زموږ له راتګ سره د کبیر جان ډله لا پسې مضبوطه او قوي شوه او د منځ لاره مو غوره کړه. د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ ټولنه مو په





فرانکفورټ کې جوړه کړه، چې دی کې خلقیانو، پرچمیانو، افغان ملتیانو او د لرې پښتونخوا ملت پالو ګډون کولو

کله کله به موږ د کمونستانو اوږدې اوږدې مقالې او تکراري خبرې هم اورېدلې، چې دا زموږ د لرې خوا دلېبرالېزم برکت و. د رحمان بابا او خوشال خان بابا د لېسو ټولو فارغ تحصیلانو به له پاړسي بانو خلقیانو او پرچمیانو سره خبرې په پښتو کولې او پاړسي بانو به ځواب په پاړسي ورکاوه. دوی په دې اتفاق کړی و، چې څوك به څوك نه مجبوروي دا ځکه پښتانـه پـه پاړسـي او پاړسـي بـان پـه پښتـو پوهېدل، نـو ځکـه د ترجمـان ضرورت نه وو. د ټولو له یو بل سره ښه او خواږه تعلقات وو. دغه خواږه تعلقـات هلـه خـراب شـول، چـې د ۱۹۷۸ع کـال د پرېـل پـه ۲۷مـه نېټـه افغانستان کې خونړی بدلون یا انقلاب راغی.

تر ۱۹۷۸ع کال پورې لوی بابا باچا خان او ملي رهبر خان عبدالولي خان د ملي مبارزې او ضد سامراج لوی هیروګان (اتلان) وو. په یوه شپه کې دننه دننه خلقیانو په جار او پرچمیانو په ډېره استاذۍ سره ددې رهبرۍ مخالفت کـاوه او ویـل بـه یـې، چـې اوس وخـت د انقلابیـانو دی او زړې مفکورې باید د تاریخ کځوړې ته واچول شي. دوی به ویل د باچا خان لاره زړه او ولي خان فکر پس مانده دی، اوس باید د شرق نابغه جناب نور محمد تره کي انقلاب لاره او د حزب خلق ګوند مشري لره او بره پښتونخوا کې تعقیب شي. NAP ته نور حاجت نشته. د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ ټولنې ته هېڅ ضرورت پاتې نشو، په جار به یې ویل چې باید موږ ټول د خلق حزب غړي شو.

خلقیان او پرچمیان به زیاتره وخت په جرمني کې د افغانستان سفارت ته ور خلاصوه او سفیر انجنیر نظر محمد ته به یې یو پر بل چغلخوري کولې. کوم ته به چې دوی راپور ویلو. دا چې کبیر جان د کونړ خان و، نو دوی به ویل چې فیوډال دی او سفیر نظر محمد ته به یې دده خلاف هم راپوروونه رسول. حال دا چې ډاکتر کبیر جان یوازینی هلك و، چې قام پرست پاتې شو. کله چې زموږ ملاقات له سفیر سره وشو، نو سفیر صاحب وویل، چې ستوری صاحب او علي خان غوندې رښتیني قوم پرست ډېر د باور وړ

دي.

سره له دې ځینې خلقیانو او پرچمیانو به زموږ د تنګولو او په قهر کولو لپاره په باچا خان او ولي خان بې ځایه او بې ضرورته تورونه لګول، چې دوی څه وکړل. دغه دی د شرق نابغه نور محمد تره کی صاحب، چې د خلګو د مترقي فوځي زامنو په زور یې داسې انقلاب وکړ، چې د کپیټلېزم د دورې نه مخکې کمونېستي دور ته داخل شو. اوس به صرف د لر او بر افغان ولس لارښود نه وي، بلکې د دریمې نړۍ د ولسونو نجات دده په لاس کې دی. زموږ ځینې جذباتي ملګرو به له دوی سره جنګ کاوه، خو کبیر جان به منع کول.

د خلقیانو حکومت هم څه عجیبه غوندې و. لومړی خلقیان او پرچمیان یو بل ته لاندې وتل، خلقیان پرې بر شول او پرچمیان یې وشړل، چې پرچمیان ورك شول بیا د تره کي صاحب او امین صاحب ډلې جوړې شوې او نتیجه یې دا شوه، چې د ۱۹۷۹ع کال په ستمبر کې د شرق نابغه او د انقلاب پلار ووژل شو او د ثور پیاوړی قوماندان حفیظ الله امین په قدرت راغی.

د ۱۹۷۹ع کال د دسمبر ۲۷ نېټې د غوایي د میاشتې د انقلابیانو په اتن کې د اکتوبر بې وقوف روسي انقلابیان هم ورګډ شول. حفیظ الله امین صاحب یې وواژه او ببرك کارمل یې په هیلي کاپټر کې کابل ته راوړو. افغانستان د NATO او WARSAW د فوجي پهلوانۍ په ډګر بدل شو.

څه وخت چې روسانو، پرچمیانو او د پرچمیانو په ژبه اصولي خلقیانو ته قدرت په لاس ورکړ شو، نو دوی کې د پښتنو او پښتون ضد تاجك یا په بله ژبه سقاویانو زیاتره پښتانه د امین د باندې تر نوم لاندې قتل او قید کول او د دوی په شړلو یې پیل وکړ. د روسانو همدغه پروګرام و، چې پښتانه د افغانستان نه شړلو ته اړ باسي، چې د دوی اکثریت په اقلیت بدل کړي. افغاني تاجکو او روسي تاجکو دا کار په ګډه کاوه. دوی پښتو ژبه عملاً بنده کړه، پښتو اخبارونه یې په پارسي کړل، په پښتو فلمونو باندې یې بندیز ولګاوه. زموږ پخواني خلقي شوي انډیوالان بې روزګاره شول او ځینو یې ځانونه یو ځل بیا جرمني ته راورسول. موږ ته راغلل، موږ ورته غېږ یو ځل بیا پرانستله، ځکه زموږ د قوم پرستو دغه کمزوري ده، چې د قوم په





خلکو یې زړه سوزي. خو کمونسټ او ملا کې زړه سوی نه شته، کمونستیانو او ملایانو ډېر قوم پرست ځوانان ووژل.

د پښتنو درونډ مشر او د پښتونخوا پخواني ګورنر خدای بښلي ارباب سکندر خان خلیل یې په پېښور کې شهید کړو. دا ځکه چې ارباب پوه، قوم پرست پښتون مشر و. ده ته پته وه، چې کمیونېزم او کپیټلېزم د افغان په خاوره پهلواني کوي، خو امریکې او مغرب مسلمانان داسې توت ته خېژولي وو، چې دوی به ویل چې یورپ او امریکا اهل کتاب دي او روسان سره کافران دي. حقیقت کې دوی د اهل کتاب نه زیات په اهل ډالر مېن و، چې مغرب خپل ازلي دښمن د دوی په وینو قبر ته کوز کړو او په نیم ساعت کې د ملا صاحب نه د مجاهد په ځای **Terrorist** جوړ شو.

ستوری صیب به په دې ډېر غمجن و، موږ به اکثره بحث مباحثې پرې کولې، چې څه وخت سخت دریځه ملا صاحب او اهل کتاب سره لاندې وتل، کبیر جان به ویل، چې "پروني یاران او نني دښمنان سره لاندې وتي دي" ملا صاحب د قدرت دومره وږی ثابت شو، چې د خدای په کور مکه شریفه او مدینه شریفه کې یې سره قسمونه وکړل، د قدرت او اقتدار دپاره یې نه د اسلام مبین دین، نه د خدای د کور او نه د اسلام د پېغمبر ص د روضې قدر وکړو، وطن یې وران او افغانستان یې داسې اور ته دیکه کړ، چې تر نن ورځې پورې سوځي.

موږ قوم پرستو به دغه ویل، چې دغه د دولت او قدرت جنګ دی، جهاد نه دی. په دې به دوی په قهر وو، موږ ته به یې بدرد ویل، خو ثابته شوه چې دوی د مذهب نه زیات د قدرت شوقمن وو.

څه وخت چې بلوڅ مشران یو په بل پسې ګوډ ته کېدل، که څه هم اوس د پښتنو او بلوڅو رهبري د خان عبدالولي خان په ځای شهباز خان مزاري په غاړه اخیستې وه، خو بلوڅي سردارانو د خپلو بلوڅي سردارانو مشري ته غاړه نه اېښودله، نو ورو ورو څنګ ته شول. د بلوچستان پخواني ګورنر ښاغلي بزنجو صیب خان ته ګوند جوړ کړ، نو داسې معلومېده، چې هغه د **ANP** لاره دوی نوره نه مني. دلته په جرمني کې هم دې کمونستیانو سم امتحان ورنه کړ او نور د قوم پرستو لپاره د اعتبار وړ نه و، نو موږ (کبیر





ستوري، مـ او لیـ‌قت وطنپال) پرېکړه وکړه، چې د پښتنو او بلوڅو ملي ازادۍ تولنې ته نور ضرورت نه شته. ځکه چې بلوڅ نه وو، نو خالص سوچه د پښتنو ګوند جوړ و او د باچا خان لار به نیسو، چې هغه عدم تشدد، په ژوند او په سیاسي ژوند کې د پښتون ملت یوځای کول، پښتو ژبې او کولتور ته خدمت کول و. دا ځکه چې پښتون په اقتصادي، علمي، سیاسي او کلتوري توګه وروسته پاتې په دې دي، چې دوی وېشل شوي دي، یو مرکز نه لري، نو ځکه د ګاونډیانو او نورو قومونو د لوبو میدان جوړېږي. له موږ سره په څنګ مېشت قومونو تل له بهرني قوت سره زموږ پرخلاف لاس یو کړی او خپله ژبه او ځان ته یې ګټه کړې او تل یې مذهب زموږ د غولولو لپاره په کار اچولی دی. نو موږ سوچ او فکر پرې وکړ، چې داسې ګوند جوړول پکار دي، چې د پښتنو د ګټو ترجماني هم وکړي او په نړۍ کې خو یو موږه نه یو، د نورو دپاره هم باید د منلو وړ وي، نو ځکه موږ ددې ګوند نوم "پښتون سوشل ډیموکراټیک پارټي" خوښ کړ. وروسته به ځینو دا پلمې کولې، چې ولې ورته د پښتون په ځای افغان نه وایې. موږ ورته ویل، چې افغان ملت ګوند د افغان سوشل ډیموکراټیک ګوند په نوم د ګوندونو په کتار کې لیکل شوی دی. دوه ګوندونه په یوه نوم قانوني حق نه لري. اصلي خبره نوم نه وه، پلمې وې. خبره دا وه، چې د دوی د پښتون له نوم سره ورانه ده. دغه سوچه نوم و، افغان یو سیاسي نوم دی، چې په بهر کې هزاره، تاجك، ازبك او دغه نور ټول ځانته افغانان وایي، خو په افغانستان کې دننه دوی ځانونه تاجك، ازبك او هزاره درپېژني. دوی ځان ته افغان نه وایي، چې بهر ځان ته افغان وایي، دا د دوی مجبوري ده. دا اصلي افغانان نه دي، بلکې پاسپورټي افغانان دي. موږ ته پارسي ژبي افغان وایي، هندي ژبي او پیرنګیان راته پټهان وایي او لیکي او زموږ اصیل، سوچه او خالص نوم "پښتون" دی او ژبه مو هم پښتو ده، نو موږ ورته ویل، چې څه ګناه وشوه، چې اصلي سوچه نوم مونږه ورکاوه. دوی په حقیقت کې مونږ ته د افغان او د پښتون په نوم ربړې جوړولې، خو په دلاېلو کې موږ پرې تکړه وو.

کبیر جان به ویل، چې "اصلي خبره دا ده، چې دوی لټان دي، کار ته یې





ډډه نه لګي. د افغان او پښتون په نوم جنجال جوړوي." دغه ټول جنجال **Confused** روشنفکرانو جوړ کړی و. موږ په دې کې کامیاب شو، پښتون سوشل ډیموکراټیک ګوند مو جوړ کړ.

ډاکتر کبیر جان ستوری صاحب د ګوند د مشر یانې مرکزي صدر په توګه وټاکل شو او تر مرګه پورې د ګوند مشر پاتې شو، ځکه چې ستوری صاحب خپل سیاست، ګوند، ولس او ملت ته وفادار و او په خپل عزم او هوډ کلك ولاړ شخصیت وو.

له ملي رهبر خان عبدالولي خان، خان لالا او محمد افضل خان او جناب اجمل ختك صاحب سره زما تعلقات داسې وو لکه د پلار او زوی، خو خان بابا تر مرګه پورې ماته د زوی په سترګه کتل. د مشرانو په ما باور و، ځکه چې ما خپل سیاسي ژوند کې اخوا دېخوا ټوپونه نه دي وهلي، خو زما ډېر ملګري ګډوډ شوي وو.

همداراز په ۱۹۸۲کال کې په لندن کې له ملي رهبر خان بابا عبدالولي خان سره د ډاکتر کبیر جان ستوري پېژندګلوي جوړه شوه. له خان لالا محمد افضل خان او اجمل ختك سره یې هم پېژندګلوي جوړې شوې وې. دوی په بره خوا کې په کبیر جان اعتبار کاوه.

کبیر جان پخپله هم درونډ، وفادار، باعظمته، ولاړ او خاموش انسان و. چغلخوري، د بل چا غیبت، د ځان صفت، دهوکه، دروغ، نمایش د ټولو غرضونو نه پاك و. پخپله اراده کې دومره کلك و، چې په پېښور کې د ضیاء الحق د مارشل لا په وخت کې نیول شوی و، ده هلته هم د پیاوړي انسان ثبوت ورکړی او دا هغه غښتلی، سپېڅلی، په وطن او ولس مېن قام پرست پښتون و، چې ټول تکلیفونه او مصیبتونه یې په ځان تېر کړل، خو معفي یې ونه غوښتله او پاکستاني پولیسو او پوځیانو ته یې سرټیټ نه کړ، ترڅو چې موږ، ایمنسټي انټرنېشنل او نورو ادارو خبره ګرمه کړه، نو پاکستاني حکومت مجبور شو. ستوری صاحب یې ازاد کړ. دغه ډېر سخت وخت و، د انسان مرګ هډو څه خبره نه وه. لکه پښتانه نقل کوي، چې "خدای نړۍ جوړوله، مرګی یې نرخ و."

هم ددې خدایي قانون مطابق کبیر جان ستوری صاحب لاړ او موږ ورپسې یو.

دی. د پښتنو په دېرو، حجرو مېن و. شاعری کې یې د پښتو ژبې لوړ شاعر اجمل خټك نه الهام اخیستی و. د پښتنو د یووالي، سوکالی او خپلواکی لپاره ده ته د باچا خان نظریو ژوند وربښلی و، ځکه یې په پښتونخوا کې د پښتون قام د شته کېدو او خپلواك کېدو ارمان درلود.

زه دلته دستوري د شخصي ژوند په هکله لږ څه رڼا اچوم.

اروابناد کبیر ستوری له هر چا سره صمیمي او دوست و. په پراخه تندی یې له هر چا سره چلن کاوه. په کال ۱۹۹۵ع کې چې کله زه المان ته راغلم، په دویمه ورځ مې له هاغه سره ملاقات وشو. تر لومړي روغبړ وروسته یې راسره داسې خبرې پیل کړې لکه یو مهربانه مشر ورور، چې له کشر ورور سره ګرېږي.

زه د هغه په خبرو پوره ډاډمن شوم، په هغه وخت کې المان ته یوازې څو تنه پښتانه راغلي وو، وروسته بیا د سیاسي پناهنده ګانو شمېر زیات شو. باور وکړئ، چې له هر پښتون مهاجر سره په المان کې د سیاسي پناه ورکولو په برخه کې ستوري صیب مرسته کړې ده. د خپل پښتون سوسیال دیموکرات ګوند (PSDP) تصدیق به یې ورکاوه او ددغې نومورې ګوند په تصدیق سره به یې سیاسي پناهندګي قبلېدله.

ستوري صیب پخپل ژوند کې چل ول، دروغ، قهر او زشته رویه نه پېژندله. هاغه به یوه یوه خبره کوله، خو د کاڼي کرښه به وه. تل به یې خوله د خندا ډکه وه. په کاله به یې چې ورغلې په خورا ورین تندي یې درته هرکلی وایه. سخت خاکساره، ملنګ او فقیر صفته بنیادم و. زه په دې لنډه مقاله کې د ستوري صیب په هکله دومره ډېر څه نشم ځایولی، ځکه په خپل لاندې شعر بسنه کوم.

سودا اخیستی یمه ستوري شمارم څنګه به شي
یو کبیر ستوری پکې نشته له مداره وتی
دا د پښتون اسمان انګړ راته خالي خالي شو
"یاره" ملګری ستا له ډلې او کتاره وتی.

❋❋❋





## خوب

**ببرک دقیق "شفیق"**
فرانکفورت، جرمني

یو ښاپسته رنګین سهار و د سپرلي
هر ژوندی په انتظار و د سپرلي
د ګلونو غوټی، شنې وې له خندا نه
ښه موسم، ګرم بازار و د سپرلي
د مارغانو اتڼونه په هوا کې
د بلبلو ترانې په ښه فضا کې
په زړه پورې ترانې دي څه به وایم
رنګارنګا تماشې دي، څه به وایم
په ګلباغ کې شور ماشور دی د مارغانو
بلبلان وایي سندرې د ګلانو
که غرور، که نزاکت او که ادا ده
ګلبدنه توتکیو ته روا ده
څه رنګینې، څه شیرینې شرمناکې
بآدبه، با اصوله حیاناکې
هرې پېغلې د کوترو سینګار کړی
نازنینو ګل مېښوکې کې نیولی
سره مېښوکه، نری غاړه، توري سترګې
داسې برېښي، کوه قاف نه دي راغلي
په ښاپست کې یو تر بله ښاپېری ده
ښکلی سر، ښاپسته وزر په ملا نری ده





بعضې سپینې، نورې توري او څه شنې دي
پسرلی دی هرې خوا ته رنګینې دي
نابلده په دې باغ کې ګرځېدمه
په رو رو د ښاپېری خوا ته ورتلمه
ما ترې وپوښتل چې ښکلې! یمه چېرته؟
زه به دلته پاتې کېږم، که څم بېرته؟
ویلې نه دلته د څو شپېو مېلمه یې
موږ راوستی یې په خوب کې په پلمه یې
دلته نن یو شهزاده دی په راتلو کې
موږ یې ډېر عمر نه لیار ساتله زړو کې
ستورو کړې په اسمان کې مېلمستیا ده
د کبیر ستوري لپاره په رښتیا ده
هر یو ستوری د اسمان په انتظار دی
ځکه کړې پرښتو ډول، سینګار دی
درنګ ساعت له مارغانو شور ماشور شو
نازولی کبیر جان ماما په ګور شو
ما وې تاسې خوشحالي کوئ زه ژاړم
دغه باغ درته درپاتې درنه لاړم
دغه ساعت کېږي دروازه په تکېدو شوه
عزیز[1] غږ کړ چې دنیا په ورانېدو شوه
د اجل پرښته تللې ده ماما ته
رانه بیایي د اسمان ستورو دنیا ده.

❋❋❋

[1] عزیز "سرشار"





***انجنیر شېر محمد ساپی***
**جرمني**

## ډاکتر کبیر ستوری یو سیاسي مبارز وو

د پښتنو د ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) مشر ډاکتر کبیر ستوری ناڅاپه غمجنه مړینه، چې د زیات شمېر افغانانو د خپګان باعث شوه، د افغانانو لپاره یوه لویه ضایع ګڼم. روح دې یې ښاد وي.

خدای بښلی ډاکتر کبیر ستوری، چې د سایکالوژۍ (ساپوهنې) متخصص و، په پښتو ژبه یې یو شمېر ارزښتمن آثار ټولنې ته پرېښي دي.

اروابناد ډاکتر کبیر ستوری سربېره پردې، چې لیکوال او شاعر و، د سیاست په ډګر کې یې خاصه ځانګړتیا لرله. زموږ د هېواد د اوسني نسل د سیاسي مبارزینو د نخبه ګانو په لیکه کې یې ځانته وړ ځای ترلاسه کړی دی.

اروابناد ډاکتر کبیر ستوری د پښتنو د یووالي رښتیني خدمتګار په توګه د یوه معقول او ثابت نظر او عمل څښتن و. هغه د یو څو بعدي روڼ اند سیاستوال په توګه د قوم په دننه کې د دندو په اجرا کې قوي اراده تمثیل کړې ده.

غواړم په دغه د قوم دننه دنده باندې رڼا واچوم:

هر اجتماعي قوم ځانته ځانګړی روشنفکره قشر لري، چې په ټاکلي تاریخي پړاو کې د خپل قوم د سازماندهۍ (یوځای کولو او لوري ورکولو) دنده په غاړه لري، ځکه د یو خوا نخبه ګان د خپل رسالت پر بنسټ د قوم لپاره اجتماعي تګلاره تنظیموي او د بلې خوا په پرګنو (قومونو) کې د ملي اندېښنو د خپرولو او د هغوی د هڅولو دنده هم په غاړه لري. سربېره پردې د تیوری او عمل ترمنځ د ارګانیك تړاو او اړیکو د سمبالولو دنده هم په غاړه اخلي.

دغه خاصه ډله (ارګانیکه ډله) د یو قوم پر سازماندهۍ او لوري ورکولو سربېره په نورو قومونو کې هم د وړ ځای په ترلاسه کولو سره د ملي فرهنګ د خپرولو، پراخوالو ملي دنده په غاړه لري او په دې ترتیب په ټولنه کې د خپل فعالیت سیمه نوره پسې پراخوي.

دغه ډله له یوې خوا د قوم دننه رسالت په غاړه لري او له بلې خوا د قوم بهر لوی نقش لوبوي.

روشنفکره ډله له یوې خوا ددغه یا د هغه قوم سره تړاو لري، له بلې خوا د یوې پایدارۍ او دایمي ډلې په توګه څرګندېږي. له دې نظره هغوی د ټولنې د ټولو فرهنګي او معنوي ارزښتونو انتقالوونکي دي.

دغه عمودي موقف (د قوم دننه دنده) او افقي موقف (د قوم بهر دنده) په پښتنو کې له یوه خوا کمزورې او له بلې خوا مشبع ده. دا مسئله خورا غوره او مهم ګڼل کېږي، ځکه نو باید تل منطقي تناسب او تعادل ولري. دغه رسالت په پښتنو کې د تاریخي دندې په توګه تراوسه پر نیمه لار پاتې دی.

د یادونې وړ یې بولم، چې په ګران افغانستان کې په لویه پېمانه ددې دندې د پلي کولو د تګلارې د بنسټ تیره څلوېښت کاله پخوا د وطن لوی خدمتګار او هېوادوال اروابناد دیپلوم انجنیر غلام محمد فرهاد له خوا کېښودل شوه، چې ترننه پورې په خپله بڼه سازماني فعالیت کوي.

په حقه سره ویلای شم، چې خدای بښلی ډاکتر کبیر ستوری دغه د وطنپالنې د ګډ احساس هغه لوړ ارزښت دی، چې یاد به یې تل پاتې وي.

د پښتنو د ټولنیز ولسولیز ګوند درنو مشرانو! ددغې ملي مبارزې لمن پراخه کړئ.







ډاکتر شېر ولي "شېرزي"
جرمني

## د اسمان ستوری

څه له پاسه شپېته کاله وړاندې د کابناتو څښتن د پښتني خاورې پر اسمان یو ستوری وځلاوه. داسې ښکارېده، چې د پښتون قوم په بې شمېره بدمرغیو د لوی ربﷻ زړه هم دردېدلی وي او هوډ یې کړی وي، چې ددغه قوم ددغه تیاره ژوند د روښانه کولو لپاره د یو رڼا ستوري شتون ته اړتیا ده.

نو ځکه خو یې د "ستوري" په زړه کې لومړی له ښکلا او انسانیت سره یوه لېوني مینه پیدا کړه، په پښتو او پښتونولۍ یې مېن کړ، بیا یې ورته د پښتون قوم او پښتو ژبې د چوپړ لپاره د همت متې داسې غښتلې کړې، چې په دغه لار کې کلونو کلونو منډو ترړو سترړی نه کړ. د وخت ناخوالو له ډېرو ازموینو سره مخ کړ، خو ارادې یې بدلې نه شوې. په دغه لار کې یې هر بار ته اوږه ورکړه، خو چا ترې د ستومانۍ غږ وانه ورېد. د پښتون قوم هر غم ته یې په زړه کې ځای ورکړ او د هغوی هر درد دردمن کړ، خو چا ترې د پښېمانۍ خبره وانه ورېده او همدغسې پخپله لار روان او په خپله خبره ولاړ پاتې شو.

لویه ربه پښتانه که زېږوي په دغه خاوره
نـو کبیر غونډې ایمان هم ورته ورکړه.

لویه ربه له تا بیا بیا مننه کوو، چې د پښتون قوم په بدمرغیو ورحمېدې او د تیاره ژوند د روښانه کولو لپاره دې ورته کبیر (ماما) وزېږاوه او د پښتون آسمان ستوری دې ترې جوړ کړ.

خو ای ربه! نن لکه چې د خپل هوډ څخه پښېمانه شوې؟
نن دې لکه چې له موږ څخه د رحم او رحمت مخ بېرته واړاوه؟
نن لکه چې په پښتون قوم بیا ستا د غضب وار راغلی دی؟

زما د قوم په ژوند خو لا د تیارو منګولې خښې پاتې دي، زموږ په کور کې خو لا د ژړاګانو اوازونه ستا د هسک غوږونه اوس هم کڼوي، زموږ د کلي کوڅې خو لا اوس هم زموږ د بچیو په وینو هره ورځ مېنځل کېږي او زموږ د کلي په ګودر کې خو لاس اوس هم د پېغلوټو ټپه په پښتو نه ده اوښتې، نو زموږ له اسمانه ستوري ولې غورځوې؟

لویه ربه! ستا په رضا کې خو څه نشم ویلای، خو ددې ګېلې اجازه راکړه، چې ستوری دې زموږ له سره ډېر ژر واخیست.

**ستوری ماما! زما لپاره تل ژوندی یې.**







پوهاند ډاکتر سرزمین کیمور
مونشن، جرمني

## پـر هېواد مېن، سپېڅلی افغان
## ډاکټر کبیر ستوري غمجنه مړینه

په دې کې خو شك نشته، چې ټول انسانان مري او هېڅوك په دې دنیا کې تل نه پاتې کېږي. خینې پوهان وایي چې تراوسه پورې تر اتیا ملیاردو زیات انسانان مړه شوي دي. سمه ده، مرګ حق دی او له مرګه خلاصون نشته، خو په دې برخه کې څه تبعیض شته او هغه دا چې له مرګ سره تر ټولو زیات او بې وخته بېوزلي، کمکیان، ځوانان او روښانفکره مخامخ کېږي.

ډاکټر ستوری یو روڼ اندی، وطنپال او ملي شخصیت و، دده ناڅاپه مړینه نه یوازې دده کورنۍ غمجنه کړه، بلکې ټول هغه ځوانان یې خواشیني کړي دي، چې دی یې د نژدې څخه پېژانده.

دی نه یوازې دننه په الماني کې د پښتنو او نورو افغانانو ترمنځ د نژدېوالي، اتحاد او اتفاق یوه خلانده څېره وه، بلکې کوښښ یې کاوه، چې په ګرده اروپا کې د پښتنو/افغانانو ترمېنځ اتحاد او یووالی راپیدا شي.

ډاکټر ستوري ته د پښتنو د ټولنیز ولسولسیز ګوند مشرتوب ورپه غاړه او خپله دغه دنده یې د ژوند تر وروستیو ورځو پورې په ډېر بریالیتوب سرته رسولې ده.

تاسې ته پخپله ښکاره ده، چې کله چېرې موږ افغانان په تېره موږ پښتانه، پېنځه تنه سره یوځای شوو په خورا لږه موده کې ترمېنځ تاوترېخوالی پیدا کېږي او په مېنځ کې مو درز او بېلتون راځي، خو د ډاکټر ستوري د تدبیر، صبر او حوصلې له امله دغه دی کلونه تېر شول او ګوند او د پښتونخوا خپرونه یې پر خپل ځای پاتې ده، خپلې منلي (ملي) او کلتوري چارې په ښه توګه پرمخ بیایي.





ډاکټر ستوری په اروپا کې ددغه نوموړي ګوند او پښتونخوا مجلې له مؤسسینو څخه و. هر څل چې دلته په اروپا کې چېرې د پښتنو/افغانانو غونډه شوې ده، ده په ډېر شوق او علاقه ګډون پکې کړی دی. د پښتنو/افغانانو ترمېنځ اتحاد او د افغانستان د ښېګڼې په برخه کې دده هلې ځلې نه هېرېدونکې دي.

د ډاکټر ستوري د وفات زغم په تېره بیا زما لپاره خورا سخت دی. مـ دی له ډېرو پخوا وختونو راهیسې پېژانده او نژدې ملګری مې و. موږ تګ راتګ او ناسته ولاړه سره درلوده، ماته دده نیك خویونه او عادتونه پوره معلوم دي.

ډاکټري ستوري له خپلې خاورې او وطن سره له اندازې وتلې مینه درلوده. هر کله به چې سره یوځای شو، ده به د هېواد د روانو حالاتو په باب خپله ژوره اندېښنه ښکاره کوله او د خپل ولس په دردناك حالت به یې خپګان څرګنداوه. ده نه یوازې په ژبه له خپل ولس سره خواخوږي ښوده، بلکې ده د افغانستان د بیاودانولو سره ډېره مینه لرله.

اروابښاد ستوری برسېره پردې، چې یو زیات شمېر علمي څېړنې او لیکنې لري، چې پخپل وخت کې به په عادي توګه لوستونکیو ته وړاندې شي. دی چې ناروغه و، نو ما به په ټیلیفون کې خبرې ورسره کولې. یو وخت مې یو کارډ ورولېږه او د نورو خبرو په ترځ کې مې دا لنډۍ هم ورته لیکلې وې:

خدمت دې څومره په ما پور دی
چې ژوند پرې درکړم نور به څومره باقي شمه

* * *

یو خلې بیا په دې لار راشه
په پخوانو منډو دې پرېواته ګردونه

زه د ډاکټر ستوري ټولې کورنۍ ته او دوستانو ته ددغې زړه دردونکې پېښې له امله تسلیت وایم. ډاکټر ستوري ته دې خدای جنتونه ورکاندي، کورنۍ، خپلوانو او دوستانو ته دې اجر او د زړه صبر.

# نوې زېرې

**خبریال عزیز سرشار**

## د مشرانو جرگې غیر رسمي غونډه

د پښتنو ټولنیز ولسولیز گوند ( PSDP ) د فرانکفورت د څانگې په نوښت د گوند د مشرانو د جرگی غیررسمي غونډه په ۲۰۰۶/۲/۱۸ نیټه د ماښام په ۷ بجو په فرانکفرت کې د لالا اقبال په دفتر کې جوړه شوې وه. په غونډه کې د گوندی کارونو په پر مختگ هر اړخیزه رڼا واچول شوه. د بحث او غور ورسته ټولو ملگرو په یوه اتفاق سره دا لاندې ټکي تصویب کړل.

۱. گوند او ملگري باید فعال شي د ښه کیدو او د لامنظم کیدو د پارِه باید لاری چاری ولټولی شي.

۲ - ټول ملگری دی وهڅول شی چې د گوند د پرمختیا لپاره هلې ځلې وکړي.

۳ - د سیمی، منطقی او نړیوال حالتو په هکله باید گوند جوتی او څرگندی لاری چاری په گوته کړي.

۴ . راتلونکی حالات د پښتنو د ملی گټو او ملی بهیر د پاره گټور بریښي ددغه حالتو څخه باید گټه واخستل شي.

۵ - د گوند د بنسټیزی ( منشور ) او پروگرام په کلکه ملاتړ وشو.

۶ . په راتلونکې کې باید یوه بله غونډه ددی غونډې په تسلسل کې جوړه شي.

د غونډې برخه وال:

ډاکتر کبیر ستوری، علی خان محسود، محمد شیرین گردیوال، هدایت بنگښ، مبارز څاپی، لالا اقبال، نصیر خان، حاجی عبدالنصیر ستوری، سید عارف جان، سید علی شاه، اکبر خان، لطیف اپریدی، ډاکتر ماخان(میرې) شینواری، محمد طاهر، میا ضیاالحق، وحید خان، نسیم خان ستوری، سید حبیب، طاهر شاه، سید عالمگیر.





## په فرانکفورت کې د خدای بښلي خان بابا عبدالولي خان په یاد غونډه





د ۲۰۰۶ ع کال د فرورۍ په ۱۸ نیټه د خان بابا عبدالولی خان په یاد غونډه د ماز یگر په دریو بجو د فرانکفورت په ښار کې جوړه شوه.

په غونډه کی د پښتنو ټولنیز ولسولیز گوند Pashtoons Social Democratic Party (PSDP ) مشر، د مشرانو د جرگې غړو او د بابا گڼ شمېر مینه والو گډون کړی و.

د ستیج چاری د PSDP د مشرانو د جرگې غړی ښاغلي نصیر خان پرمخ بیولې. د PSDP مشر ډاکتر کبیر ستوري ددې غونډې مشري کوله.

د ستیج سکرتری ښاغلی نصیر خان د فرانکفورت د ملگرو په استازیتوب ښاغلی صفدر خان، د PSDPد فرانکفروت د څانگی مشر لالا اقبال، د PSDP لومړی مرستیال علی خان محسود او د PSDP جنرال سیکرتری هدایت الله بنگش ستیج ته راوبلل.

لومړی ازاد لیکوال ښاغلی عبدالمحمد مموزی د قران کریم تلاوت وکړ او د خان بابا روح ته په گډه دوعا وشوه. ور پسی د خان بابا عبدالولی خان د ژوند او مبارزی په برخه کې ښاغلی صفدر خان مقاله ولوستله بیا ښاغلی هدایت الله بنگش د اسفندیار ولی خان رالیږل شوئ پیغام چې ددی غونډې په









مناسبت ئې لیکلی و حاضرینو ته ولوست.

له دی وروسته ښاغلی امیر محمد گران، ښاغلی علی خان محسود، ښاغلی حبیب منگل، د PSDP د مشرانو د جرگې غړی ښاغلی خان محمد مبارزڅاپی، ازاد لیکوال ښاغلی مموزی صیب خپلی مقالی ولوستلی، او د خان بابا په مبارزه او ژوند ئې هر اړخیزه رڼا واچوله د شعر په برخه کې نصیر ستوری د هیواد منلی شاعر ښاغلی عبدالوهاب سرتیر هغه شعر ولوست چې د بابا په مړینه ئې لیکلی و، ښاغلی عزیز افسوس د ملی شاعر ملنگ جان شعرونه ولوستل ورپسی سیلم جان او امجد بهرام خپل شعرونه حاضرینو ته واورول.

د غونډې په پای کې ددی غونډې مشرښاغلی ډاکتر کبیر ستوری وویل: خان بابا عبدالولی خان نه یوازی د پښتنو سترلارښود او رهبر و، بلکې د منطقې او نړۍ په کچ یو منل شوی سیاست وال و او د سیاست په ډگر کې ئې د خپل پلار باچا خان لاره خپله کړی وه. دی په ۱۹۴۲ عیسوی کال د خدایي خدمتگارو د تحریک غړی شو، چې بیا ده دا سیاست په گوندی بڼه کې مخ پر وړاندی بوتلو.

لکه څرنگه چې باچا خان بابا د پښتون قوم د ابادۍ او سوکالۍ د پاره ۳۷ کاله جیل تیر کړ، همدا شان خان بابا ولي خان هم د خپل ژوند ۱۲ کاله عمر د پښتون قام د سوکالۍ او پر مختگ د پاره په جیلونو کې تیر کړی دی. خان بابا ولی خان مونږ ته دومره معنوی پانگه پرېښې ده، چې تل به زمونږ د سیاسی لاری رڼا وی. د غونډې د صدر په همدی وینا سره غونډه په ښپږو بجو پای ته ورسیده.



## د پښتنو ټولنیز ولسولیز گوند (PSDP) د پښتو ژبې نامتو هنرمندانو ته د باچا خان جایزې ورکړې

د پښتنو ټولنیز ولسولیز گوند (PSDP)د هیواد نامتو هنرمندانو هر یو ښاغلی استاد یارمحمد «علی زی»، استاد ماستر علی حیدر، بریالی «صمدی»، همایون «حیرت «، شاڅوان «منور »، ننگیالی «صمدی»، کمین گل حیرت» او صدیق «سمیر» په ویاړ د ۲۰۰۶ عیسوی کال د فبرورۍ د میاشتی په شپږمه نیټه د جرمنی د کلن په ښار کې یو درنه مشاعره جوړ کړی وه. د دغی غونډې (




مشاعری) د ستیج چاری د PSDP د خپرونو د چارو مشر ښاغلی عزیز «سرشار» او د PSDP د دارالانشا د مشر مرستیال ښاغلی نصیر ستوری پرمخ بیولی.

غونډه د ښاغلی مبارز «څاپی» لخوا د قران کریم د مبارکو ایتونو په طلاوت سره پیل شوه.

وروستي د PSDP مشر ښاغلي ډاکټر کبیر «ستوري» د غونډې برخه والو ته دښه راغلاست ویلو وروسته د خدايبخلي خان بابا خان عبدالولي خان روح ته د غونډې برخه والو سره یوځای دوعا وکړه.

د مشاعرې په برخه کې د پښتو ژبې نامتو شاعرانو هر یو ښاغلي محمد اجان «یار» ښاغلي مبارز «څاپي» ، ښاغلي انجنر فرید الله «ساپی» ښاغلي خالد «ساپي» خپل شعرونه واورول. دافغان سینما او تیاتر د مرکز مشر ښاغلي واحد «نظری» لخوا په زړه پوري طنز واورول شو همدغه شان د ښاغلي معطیع الله «روفی» لخوا د ښاغلي محمود «نظری» لیکلی شوی طنز ولوستل شو. وروستي خسرو «روفی» او نوید «قاضي خیل» خوندوره تمثیلي ټوټه وړاندې کړه.

د مشاعرې په دوهمه برخه کې ښاغلي ډاکټر ماخان «شینواری» ، ښاغلي خیبر مومند ، ښاغلي امین «سادات» خپل شعرونه واورول. مشاعره د هیواد د منلي شاعر ښاغلي عبدالوهاب «سرتیر» په زړه راښکوونکو شعرونو سره پای ته ورسیده.

دټوکو ټکالو څخه وروسته د جایزو ورکولو برخه پیل شوه چې دا مشاعره ئې په ویاړ جوړه شوې وه. ښاغلي استاد یارمحمد علي زی، ښاغلي استاد ماسټر علي حیدر، ښاغلي بریالي صمدی، ښاغلي همایون حیرت، ښاغلي شاه ځوان منور ښاغلي کمین ګل حیرت، ښاغلي ننګیالي صمدی او ښاغلي صدیق سمیر ته د PSDP د جنرال سکرتر ښاغلي هدایت «بنګښ» د PSDP د مرستیال ښاغلي محمد شیرین «ګردیوال» او د PSDP د مشرانو د جرګې د غړو هر یو ښاغلي ډاکټر ګل حسن «ولیزی» او ښاغلي مبارز څاپي په لاس ورکړل شوې.

د هنرمندانو په نمایندګي ښاغلي استاد ماسټر علي حیدر لنډې خبرې خوښنه او مننه وکړه.

غونډه (مشاعره) د PSDP د مشرسلاکار ښاغلي حاجي فضل الرحمن «شیر» په وینا خوندور شعر پای ته ورسیده.





# په فرانکفورت کې د غني خان د ادبي، کولتوري او څېړنيزې جرګې مشر په وياړ غونډه جوړه شوه



د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند Pashtoons Social Democratic Party PSDP لخوا فرانکفورت څانګې د محمد اقبال لالا په دفتر کې د پروفیسر جهانزیب نیاز په ویاړ غونډه جوړه کړه. په غونډه کې د PSDP مشرانو د جرګې غړو او ملګرو سربیره پښتنو لیکوالانو او شاعرانو هم ګډون کړی وو.

غونډه د روژې مبارکې میاشت په لومړي ورځ په ۲۳.۰۹.۲۰۰۶ نېټه د مازیګر په څلورو بجو پیل شوه د پښتنو او . سیمې په حالاتو هراړخیزه رڼا واچول شوه .

مشر میلمه ښاغلي پروفیسر نیاز د پښتنو په قامي وحدت او ورورولۍ زور واچاوه.

ده زیاته کړه چې د پښتو ژبې او کلتور د ودې ، پراختیا او پرمختیا لپاره باید ټول لر او بر پښتانه د زړه د اخلاصه کار وکړي او یو بل سره اړیکې وساتي او لاسونه ورکړي پدې هکله ئې د خپل ځان له اړخه پوره پوره ډاډ ورکړ او د حاضرینو تپوسونو ته ئې ځوابونه وویل.

ښاغلي پوهاند نیاز چې یو سپیڅلی پښتون دی د خپل ژوند په اتیا





کلنۍ عمر کې هم د پښتني کلتور، ژبې او ادب چوپړ ته د خپل ژوند تر اخری سلګۍ پورې په پوره ئې ایمانداری او میړانه ملا تړلې ده. که څه هم دی سپین ږیری دی خو حوصله ، زغم، عزم او اراده ئې پیاوړی او ځوانه ده. د خدای



خدمتګارو د غورځنګ د لارې مل او پدې لاره کې ئې ډېر تکلیفونه او جیلونه هم تیر کړي دي په رګونو کې ئې پښتنه وینه بهیږي، زړه ئې پښتون دی . ارزښناکې لیکنې ئې کړې او یو شمیر کتابونه ئې ټولنې ته وړاندې کړي.

ښاغلي پروفیسر نیاز که له یوې خوا د «د ستار» مجلې په پیل کولو سره د پیاوړي لیکوال او شاعر ښاغلي صابر شاه صابر او د ملګرو په هلو ځلو د پښتني کلتور ګلبڼ ښکلې او تازه کړې نو له بلې خوا د پښتنو د ستر فلسفي غني خان د پښتو ادبي، کلتوری او څېړنیزې جرګې د مشر په توګه د خپل کلتور د بډاینې او سمسورتیا په خاطر ډېر ګر ته راوتلی دی او ددې تر څنګ د پښتو عالمي کانګرس د چیرمین په توګه ذمه واری هم په غاړه لري. ددې ټولو مصروفیاتو سره سره د پښتنو د سوکالۍ ، ابادۍ ، د پښتو ژبې او پښتني کلتور د پرمختګ په خاطر هر ځای پښتنو ته ځان رسوی د امریکا او انګلستان د سفرونو څخه وروسته د خپلې بې کچې مینې او خلوص له مله ئې په 21.09.2006 نېټه جرمنی ته هم ځان راورساوه.

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د مشرانو جرګې یو شمیر غړو سربیره ئې دځنې پښتنو لیکوالانو ، ادیبانو او شاعرانو سره د کولن ، بن او فرانکفورت په ښارونو کې لیدنې کتنې او د نظریو بدلون وکړ د غونډې برخه والو دده کلتوری هلې ځلې وستائیلې او ده ته ئې د خپل ملاتړ ډاډ ورکړ. غونډه د مازیګر په شپږ نیمو بجو پای ته ورسیده.





# يو شمېر فرهنگپال د اروابښاد ستوري غمرازي ته ورغلل



د ۲۰۰۲ زېږدیز کال د مي د میاشتي پر څوارلسمه نېټه یو شمېر اروپا مېشتي فرهنګپال او فرهنګیان داروابښاد ډاکټر کبیر ستوري پاک روح ته د دعا له پاره د نوموړي کورته ورغلل.

داروابښاد ډاکټر صاحب کبیرستوري پاک روح ته د په دعا او غمرازي کي په لندن کي د افغان ادبي بهیر په استازیتوب ښاغلي افضل ټکور او اکبر کرګر ، په هالنډ کي د افغاني کلتوري ټولني په استازیتوب ښاغلي نظیف تکل او ښاغلي حسن شور او ښاغلي زغرد ، په بلجیم کي دافغانانو د کلتوري ټولني په استازیتوب ښاغلي نجیب احمدزی او ښاغلي حاجي امین باوري ، په اروپا کي د افغاني کلتوري ټولنو د ګډي جرګې مشر ښاغلي زرین انځور ، شاعر او لیکوال ښاغلي اکبر بري او د بېنوا فرهنګي ټولني په استازیتوب عبدالله احسان برخه اخستې وه.

## د اروابښاد ستوري شخصي ژوند او له نورو فرهنګي کسانو سره اړیکې د ډېرې مننې او درناوي وړ دي

سرمحقق زلمی «هېوادمل»



د 2007 ع کال د جنوری د میاشتی په 17 نېټه د افغانستان د اسلامی جمهوریت د ولسمشر د کولتوری (فرهنګی) چارو مشاور وزیر او د افغانستان وتلی نومیالی لیکوال، ادیب او څېړونکی ښاغلی سر محقق زلمی «هیوادمل» په جرمنی کې د اروابښاد ډاکتر ستوری کورته ورغی او د اروابښاد روح ته ئې دوعا وکړه.

ښاغلی هیوادمل پښتو ژبی او پښتون ولس ته د اروابښاد ستوری سیاسی ، فرهنګی او ادبی هلی ځلی وستائیلی او وی ویل ډوکتور کبیر ستوری د افغانستان نومیالی ، سیاسی او فرهنګی شخصیت وو. دده شخصی ژوند او له نورو فرهنګی کسانو سره دده روابط د ډیری مننی او درناوی وړ دی.

دی په پښتنو کې یوازینی سړی و چې په سایکالوجی کې ئې لوړ تحصیلات درلودل. په پښتو ژبه ئې په اروا پوهنه کې ډیر کتابونه ولیکل چې د پښتو سیالی ئې له ګاونډیو ژبو سره برابره کړه.

دده غمجنه مړینه ستره ضایعه ده الله تعالی دی هغه وبخښي، د علم، پوهی او فرهنګ ډیوه دی د اروا ښاد ستوری په کورنی کې تل روښانه وی.

## د خدای بښلي ډاکتر کبیر ستوري په یاد!

**وهاب سرتېر ـ جرمني**

د سبا پته بـه لـه چا لګوو؟
چې یو په یو رالوېږي ستوري زمـوږ
تیارې ګوابن ګرندی، په قابو کې ناستې
ورخ چې تهدید ده، له هر لوري زموږ
دا خوشحالی چې رانه ډډه کوئ
د ژوند غمونه دي سرزوري زموږ
هغه پښتون "ستوری" کبیر رایاد شو
چې په دې یاد به اوښکې اوري زموږ
پښتنې مور راوړي ډېر بچي دي
تاریخ سړیو پسې ګوري زموږ
لږ دي په مونږه کې دمخي سړي
په نوم سړي لرو بر ستوري زموږ
ربه چې ډېر کړي مېړني د وطن
چې د ملت په سر شي سیوری زموږ
سرتېره مرګ د مېړنیو مه وای
خوراك د مرګ وای دا مختوري زموږ
نن چې په مرګ د مېړنو ژاړمه
زه په پښتو او پښتنو ژاړمه
د سړو تشبه ده په دې هېواد کې
له بدې ورځې په سړو ژاړمه.





## عرفان الله کوټوال کونړی

څه ستړي شوي غونډې توري تر ماغزو را رسي
له دغه ښاره له میونده تر سرو را رسي
هغه سړي هغه شمله، شمله سړي مې څه شو
د ملالی تپه مې اوس هم تر غوږو را رسي
هغه څپې، څپې غرور مې نور له برمه لوېږي
څښتنه خیر د توري شرنګ مې تر بنګړو را رسي
هغه غلیم چې به مې پښې پسې تنهاګې شولې
دومره اوږده شو هغه لاس چې تر مرو را رسي
ها چې بچو ته یې زما نوم للو، للو کې وایه
څومره ښخ پرېوتم چې ماته په ویدو را رسي
دا درته اوښکې، که سره وینه د خیبر ښکاره شوه
دا د خیبر د ډډ اواز چې تر سلګو را رسي
هغه صنم چې غېږ کې نیسي اوس هم شته سرونه
غرور یې دادی چې په زور تر زولنو را رسي
هغه وربل هم له دې تورو نه کم نه برېښېږي
کوټواله څرك چې یې ددغو تر شملو را رسي

**د فساد فکر مې نشته خدای حاضر دی**
**خپل ساعت به تېروم عمر اخر دی**
**اطاعت د اوالامر څکه نه کړم**
**خلیفه د زمانې په زړه کافر دی**

**خوشال بابا**





# مبارکي



د پښتو نړیوال (عالمي) کانګرس له خوا د دانش خپرندویې ټولنې مشر اسدالله دانش ساپي ته او همدا راز د غني خان ادبي او کولتوري جرګې مشر پروفیسر جهانزېب نیاز او د وحدت ورځپانې مشر پیر رحمدل شاه ته پښتو ژبې ته د نه هېرېدونکیو خدمتونو په اعتراف د "ستوري ایوارډونه" ورکړل شول.

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند (PSDP) ښاغلي اسدالله دانش ساپي، ښاغلي پیر رحمدل شاه همدرد او ښاغلي پروفیسر جهانزېب نیاز ته د زړه له کومي مبارکي وایي.

**درست پښتون له کندهاره تر اټکه**
**سره یو د ننګ په کار پټ او اشکار**

**خوشال بابا**






که سپوره وي، که پوره په شریکه به وي. (باچا خان)

Das brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt. (Batscha Chan)

*Buttered or unbuttered bread will be common. (Bacha Khan)*



د هدف لپاره لارې لټوئ، خو د لارې لپاره هدف مه بدلوئ.

(ستوری)

Redaktion / Editorial Board:

Gul Ghutai Kunarai
Ali Khan Mahsood (Maseed)
Hidayat Bangash
Mabariz Zapi
Aziz Sarshar
Nasir Stori